# نظامنامه

د

# نکاح او سنتي

په (۱۱) د لړم په سنه ۱۳۰۶ هجري شمسي

په مطبع کتب د "شرکت رفیق" په ماشینخانه

د کابل کښې چاپ شوې

(قیمت د یو جلد (۱۳) پول)

شماره د چاپ.........(۲۰۰۰)

بسم الله الرحمن الرحیم

# نظامنامه د نکاح، واده، او سنتې

له دې جهته چه ډیرې دعوې او جګړې په سبب
د کټ مکش د خرڅو د واده او نکاح - او په سبب
د ظلم او تعدی د میړو په حق کښی د عاجزه ارتنو،
په محکمو د شریعت کښی ډیرې پیښېدلې -
لپاره د دور کیدو د ظلم، او لرې کول د منازعو او
جګړو، او قایمولو د مساوات و برابری د سړیو
په حقو کښی - په دې قاعدو باندې چه سم او
مطابق د شرع شریفی، او موافق د مذهب حنفی دی حکم کوم

قاعده (۱):- له دې جهته چه عام حکم د خدای تعالیٰ جَلَّ جَلَالُهُ په موجب د دې آیه کریمه دا سې شان دی:-

| | |
|---|---|
| قَوْلُهُ تَعَالیٰ - فَانْكِحُوا | پس په نکاح واخلئ تاسو |
| مَا طَابَ لَكُمْ مِنَ | هغه ښځې چه حلالې دي تاسو |
| النِّسَاءِ مَثْنیٰ وَثُلَاثَ | ته دوه، دوه درې، درې څلور |
| وَرُبَاعَ فَإِنْ خِفْتُمْ | څلور، که چیرې وویریږئ تاسو له دې |
| أَنْ لَا تَعْدِلُوا | چه عدل برابر ونکړئ په منځو برابرېدلو |
| فَوَاحِدَةً | د ښځو کښې، پس په نکاح واخلئ یوه ښځه |

لپاره د دې خبرې په دې صورت کښې، چه هر مسلمان مخالفت له امره د خدای تعالیٰ څخه وکړي سبب د ذیلت د دواړو جهانو به ئې وي - بنا په دا باندې په قرار د امر د حق تعالیٰ جَلَّ وَعَلیٰ شَانُهُ سره حکم د حکومه چه ای صاد قانونه شماره ۳ پاس حکمیه سره متفید او پابند

وشي، که چیرې تاسو عدالت او برابري کولای شئ

نو دوه یا درې یا څلور ښځې په نکاح سره واخلئ

او که عدالت نه شئ کولای - نو یوه ښځه تاسو لره بس

دی - ځکه چه د دوه ښځو ساتونکي له عدالته

ډیره ګناه لري .

(۳) - هغه څوک چه دوه یا درې یا څلور ښځې لري، یا

لوی نکاح وتړي - او بیا له شرع شریفې سره

عدل او برابري ونکړي - او حکومت ته خبر ورسیږي

پس له ثبوته څخه تعزیراً حکم د جزا ورې کیږي -

برسیره پر نشت والي د عدل او برابرۍ چه

پلټس وښودل شه - هغه څوک چه په جبر او

زور سره داسې شان عرض کوونکي ښځې، له

قتلو څخه عدلیه محکمو ته منع کړي، یا اختیار د

هغو عرض کوونکو ښځو په جبر او زور سره نې عرض ته

نه پریږدي، تعزیراً حکم د جزا وړي کاوه شي .

(۳):- په حالت د ورّه کیني کښ، پخوا له بلوغه، او وسیله لو څخه نکاح روا ده- لکن ای صاد قانو رعیته شما!

نکاح د ورّه کیني په مخ د تاسو کښ سبب د دعوی او منازعو، او جگړو، او د ژاړو او نفاق کیږی- لکه چه بتجربه سره، ستاسو دی معنوی پلار ته معلومه شوی دی- نظرو د ی د لیل ته، پخوا له دی نه نکاح د ور کیني موقوفه شوی ده، مقصود او مراد شما، اتفاق او آرامی د ستاسو صاد قانو رعیّت، دی.

(٤):- په مابین د ټولو خلقو کښ رواج دی چه اوّل شیریني خوړی کوی، او دیته، نامزدی او کوژدن وائی- او پس له څه مدّته څخه، یو شپه ئی په شپه د حنا، او واده سره معیّنه کړی ده- چه په صباح د هغی شپی بدئی په تولید لو د ډیرو خلقو سره نکاح تړله او د واملی د وصلت بدئی تمام ته

رسولی- په دی صورت کښې، یو، د دا په طرفونه
سختی پیښیږی لږ، دویم بیځایه سښندل نه کیږی
دریم، دعوی ته رسیږی ه- لږ جهتږد دی، رواج
د شیریني چه ورته کوژده ویلای شی بالکل
منع کړی دی- هرڅوک چه خیال د نژدی
والی لری اول د دواړه طرف خپلو په رضا
د ناوینه او بنځوپه منځ د خپلو کښې خبری وکړی
او کار د وصلت د تمام کړی- په دغه شیریني
د داسی نکاح کښې بی له نژدی خپلوانو او څوکسه
نور نکړ ملا چه نکاح تړی او شاهدان، نور زیات د
خلق د جمعه نشی، او هغه دیره شیریني چه ځوا
جاری وو کامل منع دی- او پس له دی نه
چه معاملی د نکاح لکه چه وښودل شه،
خلاصه شوله، نو که ښځه بالغه وه، دَ
واده سررشته د وشی پس له آخستل د مهر نه

دستی دِ میره‌ته ورکړه شي - او

بـکه انجلی نابالغه وی اجازه ورله شته چه

په کورکښ د ولی د پهلوان یا د ومی خپل کښ

وی - هرکله چه رضا د دواړو خوا وشوه

تیاری دِ واده دی په ښه والی او خوشحالی سره

وکړی چه په نژدی والی کښ محبت او غیرت

او په اولاد کښ برکت پیدا شی - .

(۵):- هغه کړده او خولیشي چه په وقت کښی د ورکولو وابیلی

پخواتردی پښ شوی وی د اول د ۱۳۰۵ سنه نه

په شرعی محکموکښ خلاص او فیصله شي - پس

له بیر بیله هغه وقت معلوم شوی نه،

دا رنګه دعوی مکه څوك سند او ثبوت

د رست و قطعی په لاس کښ لوی خاص به

حضور نه د پادشاه تقدیم کیږی - یا به

د پادشاه له طرفه یوی محکمی نه اختیار د اوریدو

دا سی دعوی ورکول کیږی .

(٦):- هغه ښځه چه په "بدی" کښی سره ورکول کیږه او یا ښځه په زور دپه میراث کښی ورله او یا ښځه د بل خپل میراث بیله بالکل منع او موقوف دی!

(٧): کنه ښځه او طلاق کوی ښځه د هیچا ک د مړه کول ځغه په ویره ول او داره ول نه منع کوا!

(٨):- رواج د هغه شیونه چه په اختزو یا په برات کښی په کور کښی د ما بینی و د ښځه کره آستول کیږه منع دی .

(٩):- د انجلی او هلک نکاح که پلار یا صحیح نیکه وکی درست دی نه وراندی، که د پلار و نیکه نه بل څوک ورکوی، په وقت د بلوغ کښی اختیار د نه منلو د نکاح لری!

(١٠):- شیرینی د نکاح د نیم چارک نه زیات چارک پوری نقل یا میوه د وی اضافه د نوی!

(۱۱):- مهر د تولو طایفو زیاد تر دیرش روپی او شیربها
د لور او ترلین او طویانه بالکل موقوف دی .

(۱۲):- کالی چه میره ماینه خپلی ته ورکوی دا قسم دی
اول:- کالی د دنیا دار و خلقو څلور جوړی کامله ریښمین
او څلور جوړې کامله پشمی او نخی (دوری ته سینیکو)
دویم:- میانه حال خلق:- دری جوړی کامله و
ریښمین ، دری جوړی کامله پشمی ونخی .
دریم:- غریب خلق :- دری جوړی کامله پشمی او نخی
څلورم:- هغه کالی چه میره ومایني خپلی ته ورکوی
اضافه تر دغو ده وی چه وښودل شو که
کم تر دغو وی په واسطه د غربي دوی
اختیار لوی !

(۱۳):- کالی د ځوم چه د خواه ښځه د خسر خیل ورکول کیږی ده
بالکل موقوف دی .

(۱٤):- هغه دود چه د کور ښځه د پلار، یاد مور، یا د نورو ،

خپلوانو وفادی ته په مجلس کښ په قسم د سیالدارۍ

او شان خو د ته ور کول کیده موقوف دی !

که پس له واده څخه خپلی لور ته څه ورکوی اختیار لری

(۱۵) که پس له خلاصیده څخه د واده میره یا خپلوانو

د میره یا خسرخیل د ښځې د پاره د ناوی ګانړه یا

بل اسباب ورکاوه اختیار لری منعه ته دی او په

ورکولو سره هم مجبوره نه دی !

(۱۶) :- په شپه د نکریځو کښ که چیری میره په رضا

خپل په قسم د واده د نکاح میلمیستیا جوړه کی

منع نه دی، لکن شیرینی او میوه اضافه تر

اندازه د خوراک د نه وی، او میلمانه د غه

شیان، کور خپل ته نه وړی.

(۱۷) :- لپاره د ملاچه نکاح تړی له ښځه تر شلو روپیو

پوری ورکولی شی اضافه منع دی

(۱۸) :- بی له رضا د نرو د ښځی چه بالغات ... که شوان

په جبر ودکړی - جبر کونکی او نکاح تړونکی
ملا (تعزیر) کیږی.

(۱۹):- جعوالی د ښځو یاد نرو لپاره د میلی د سُنتی
دواړه می منع کړی دی، له دی جهته
چه بی ځا په او اضافه خرځ وه

(۲۰):- فیصله او معمول د تعزیری جزاء د قاعدو
ددی نظامنامی په نائب الحکومګیو او اعلیٰ
حکومتیو کښ په واسطه د قاضی د ابتدائی
او کوتوالی اجرا کیږی

(۲۱):- حکم د هغو پخوانی نظامنامی د نکاح چه
دړاندی تر دی چاپ شوی دی - پس له چاپ
او بقنیده د دی نظامی منسوخ دی

(۲۲):- په اجرا کولو د دی نظامنامی "وزیر عدلیه"
مأمور دی.

تر لی قاعدی د دی نظامنامی موافق له احکامه د

شرع شریفی او برابر له پاك مذهب دحنفی او جوړ په
په دوا یا تو قوتیر مفتی بها سره دی

## نقل دِ دَستخطونو د منتخبی علماؤ دلویی جرگی

(مولوی محمد ابراهیم) (مولوی عبد الحی رئیس تمیز) (مولوی عبد الخالق)
(مولوی عبد الله) (مولوی محمد رفیق)

په داخلول او اجرا کول دحکم د دی نظامنامی
سره په نظامو د دولت کښی امراو اراده کړ

